# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د حدیث شریف ژباړه**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:** که له تاسو څخه یو څوک په چا کې منکر عمل ووینې، نو په لاس سره ئې منع کوئ که مو وس ونه رسېده، په ژبه یا ویلو سره ئې منع کوئ او که مو بیا هم زور پرې ونه رسېده؛ نو په زړه کې ئې بد وګڼئ (بد و ایسوئ)، چې دا تر ټولو کمزوری ایمان دئ.

[صحیح مسلم بیان کون النهي عن المنکر من الایمان وان الایمان یذیرو ینقص وان المر بالمعروف الي (ص: ٥١ ج: ١)].

**ترجمه حدیث شریف**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:** اگر از جمع شما فردی را با عمل منکر مشاهده کردید، آنرا با دستان تان منع کنید، اگر قادر نبودید وی را به زبان منع کنید و اگر باز هم ناتوان بودید آن شخص را قلباً نفرین کنید. که این ضعیف ترین ایمان است. [صحیح مسلم بیان کون النهي عن المنکر من الایمان وان الایمان یذیرو ینقص وان المر بالمعروف الي (ص: ٥١ ج: ١)].

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


شنبه | د ذولقعده الحرم ۱۷ - ۱٤٤٥ل س/ د غبرګولی ۵ - ۱٤۰۳ل ل/ د مي ۲۵ - ۲۰۲٤ز/دریم کال / ۱۰۰ ګڼه/ ٤ مخیزه




## سر مقاله

### نگاه بر اهمیت رشد اقتصادی جامعه افغانستان

اقتصاد محور اصلی و پایه های اساسی و بنیادی در امر تولید، شکوفایی و توسعه اقتصادی برای تمویل پروژه ها و انکشاف فعالیت های زیربنایی و رشد اقتصادی نظام حاکم در کشور به حساب می آید. بنا بر اهمیت رشد اقتصادی افغانستان طی سال های ۲۰۰۱ الی ۲۰۱۳ به گونهٔ بی پیشنه ای رشد اقتصادی وابسته به کمک های خارجی بوده است، میزان رشد اقتصادی جامعه افغانستان با سرازیر شدن کمک های بین المللی، تجارت، تقویه تولیدات داخلی و صادرات اموال تجارتی به کشور های مختلف جهان، تأثیرات مثبت را در کاهش بیکاری، رشد اقتصاد داخلی، سرمایه گذاری ها در ابعاد مختلف مسیر درست را در کشور برای انکشاف اقتصادی پی موده است. در حالیکه افغانستان کشور است، دارای منابع طبیعی، مملو از تولیدات محصولات زراعتی، صنایع دستی و سایر تولیدات صنعتی و ۷۵ فیصد مصروف در سکتور زراعت و وابستگی مردم بیشتر به سکتور زراعت، از اینرو افغانستان با نگاه تجارت، داد ستد و تهیه مواد خام و تولید انواع محصولات مصرفی و تجارتی، اسفالت جاده های بزرگ راه های ترانزیتی و تجارتی، رشد اقتصادی را طی سیزده سال گذشته برای انتقال محصولات تجارتی مساعد و تسهیل بخشیده است. با افزایش تولیدات داخلی، رشد اقتصادی، صادرات، جذب سرمایه گذاری، تأسیس زیر ساخت ها، ارایه خدمات، ایجاد فرصت های کاری، کاهش بیکاری، افزایش در آمد، تسهیل تجارت و تأمین ارتباطات با جهان، می تواند زمینه ساز رشد اقتصادی، برای بهبود شرایط زندگی و رشد اقتصادی جامعه افغانستان گردد. رشد اقتصادی می تواند نقش و اهمیت تولیدات داخلی را در محراق توجه قرار داده و زمینه ای توانمند سازی اقتصاد جامعه را فراهم سازد، نابرابری های در آمد را کاهش داده، در نهایت، رشد اقتصادی برمبنای پایه اساسی و هدف کلی در سیاست گذاری های اقتصادی و منافع عمومی جامعه در نظر گرفته شده است. اهمیت رشد اقتصادی، نیازمند ایجاد یک سیستم نوآوری و کار آفرینی در امر تولید و افزایش فزایندهٔ، شاخص های عمدهٔ اقتصادی برای انکشاف فعالیت ها، جهت پیشرفت و تأثیر فعالیت های مثبت و معنادار به منظور رشد اقتصادی مناسب، برجسته ساختن تولیدات داخلی برای رسیدن به هدف اصلی جامعه افغانستان می باشد. در حال حاضر بررسی ها نشان می دهد کشور های مختلف جهان، نقش مهم را در جهت دست یافتن به ابتکارات و نوآوری ها، برای بهبود و رشد اقتصادی جامعه و اشتغال زایی، شامل کشور های (فیلیپین، قزاقستان، آفریقای جنوبی، مجارستان، سوئد، لهستان، پرو، مکزیک، آرژانتاین، برازیل، مالزیا، استرالیا، تایلند، انگلستان، ناروی، ایران، کلمبیا و ایالات متحده آمریکا) با استفاده از روش های معقول، نوآوری و اشتغال زایی، مبین تأثیرات مثبت اقتصادی دانسته شده و محور اصلی فعالیت های انکشافی را متحویل و رشد اقتصادی را به وجود آورده است. به هر حال، چالش های متعددی روی پیشرفت فعالیت های اقتصادی، توسعه زیربنا ها، افزایش سطح بیکاری، تولیدات داخلی، بهتر سازی کمیت و کیفیت رشد محصولات تولیدی و صنایع برای رشد اقتصادی در سطح ملی کشور وجود دارد. جهت حل این مشکلات باید در قدم نخست بی ثباتی سیاسی و شکنندگی های اقتصادی و اجتماعی را بر محوریت نظام حاکم امارت اسلامی افغانستان، تغییر و برای آوردن ثبات اقتصادی، کنترول بحران انسانی و مدیریت ثبات سیاسی در چارچوب کاری و استراتیژی انکشاف ملی افغانستان برای ثبات پایداری دائمی قلمداد نموده، زمینه پایداری را بطور مستقیم تحت تأثیر رشد اقتصادی، برای آیندهٔ روشن و انتقال آن به نسل های بعدی که نقش مهم و برازنده را با خود اختصاص خواهند داد تضمین نموده، می تواند تأثیرات چشمگیری بالای رشد اقتصادی جامعه افغانستان در تمام عرصه های اقتصادی داشته باشد. نتیجه گیری، بر اساس یافته ها و جمع آوری معلومات، رشد اقتصادی افغانستان بعد از کاهش چشمگیر بی ثباتی، طی سال ۲۰۲۱، تورم اقتصادی، عادی شدن فعالیت های تجارتی و اقتصادی، رشد تولیدات ناخالص داخلی، کنترول چالش ها و خطرات پیش بینی شده به ثبات سیاسی، اقتصادی تغییرات نسبی منجر به افزایش سطح تولیدات داخلی و رشد اقتصادی در افغانستان شده و بهبود یافته است.

**با احترام**

**اداره**

# د ۱٤۰۳ مالي لمريز کال د ملي بوديجې سند توشېح سو



د افغانستان اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله) له لوري د افغانستان د (۱٤۰۳) مالي لمريز کال ملي بوديجې سند له هر اړخيز غور او دقت وروسته توشېح سو. د روان مالي کال ملي بوديجې په سند کې د خلکو اړتياوي او لومړيتوبونه په پراخه کچه په پام کې نيول سوي او همدا رنګه د سږ کال ملي بوديجه هم لکه تېر کال له خپلو کورنيو عوايدو څخه چمتو سوې ده. ماليې وزارت به د تل په څېر د (۱٤۰۳) لمريز مالي کال ملي بوديجه د هيواد په مالي سيستم کې ځای پر ځای کړي او د روان مالي کال اړوند ټولو چارو (عادي او انکشافي برخو) ته به په پوره روڼتيا سره په عادي ډول دوام ورکړي.

## ماليې وزارت په ګمرکونو کې برېښنايي حکومتولۍ او سيستم جوړوني ته لومړيتوب ورکړی دئ




د ماليې وزارت له لوري په اړوندو ادارو کې د برېښنايي حکومتولۍ پلي کولو او سيستم جوړوني ته لومړيتوب ورکول سوی او په دې برخو کې د پام وړ اقدامات ترسره سوي دي. پر همدې بنسټ، په (۱٤۰۲) مالي کال کې د هيواد د ګمرکونو اړوند (اسيکوډا) په سيستم کې د پام وړ اسانتياوي او اصلاحات رامنځته سوي دي، د حيرتان، خوست او کندهار په ګمرکونو کې د کورني ټرانزيټ فورم (ټي ۱) او اظهار پاڼو نښلول، د تورخم، کونړ او حيرتان په ګمرکونو کې د بيي اينښودني ماډيولونو پلي کول، د انالوګ تلو سيستمي کولو له پاره د سافټوېر جوړول، د ډيجيټل تلو سافټوېر نوی کول او يادي تلي سره نښلول، په لويو ګمرکونو کې د څارني پرمختللي کامرې فعالول او د اسيکوډا او د افغانستان بانک (CBS ) سيستمونو د نښلولو مهمي چاري ترسره سوي دي. د اسيکوډا په سيستم کې د يادو ګټورو اصلاحاتو له رامنځته کېدلو سره د ګمرکي عوايدو د تېښتي او فساد مخنيوی سوی، په چارو کې لا چټکتيا رامنځته سوې او اړوندي چاري په پوره روڼتيا سره د سيستم له لاري ترسره کېږي.

## د ماليې وزارت هر ډول ماليات د عوايدو لوی رياست د پاليسيو او قوانينو په رڼا کې را ټولېږي

د عوايدو او ګمرکونو معين ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس)، د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال او کفيل مولوي منصورالحق ذاکر، د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال عبدالولي نوري، د عوايدو د حقوقي خدمتونو او پاليسۍ رياست رئيس مولوي نداء محمد صديقي، د امارتي املاکو لوی رياست رئيس محمد هاشم هاشمي، د امر بالمعروف او النهی عن المنکر د شکايتونو اورېدو معين مولوي صديق الله او ورسره مل پلاوي د سوداګرو د ستونزو اورېدو په موخه د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکونو معينيت د غونډو په تالار کې ګډه ناسته وکړه. په پيل کې د امر بالمعروف او النهي عن المنکر د شکايتونو اورېدو معين مولوي صديق الله وويل، چې په اسلام کې اقتصادي نظام سته او هر حکومت حق لري، چې د نظام د ټينګښت او ملت ته د ښه خدمت وړاندي کولو په موخه له دوی څخه ماليه راټوله کړي. ورپسې د عوايدو او ګمرکونو معينيت معين وويل، چې د عوايدو او ګمرکونو معينيت دروازې تل ستاسو پرمخ خلاصي دي او هر کله کولای سئ، چې خپلي ستونزي له موږ سره شريکي کړئ. نوموړي زياته کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت تل هڅه کوي، چې سوداګرو ته وخت په وخت اسانتياوي رامنځته کړي، چې په همدې موخه د امير المؤمنين حفظه الله په هدايت د ماليې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت او صنعت او سواګرۍ خونو ترمنځ مشترکه کمېټه جوړه سوې ده. نوموړي ډاډ ورکړ، چې له دوی څخه ماليه د مالياتي قوانينو او نورمونو په رڼا کې اخيستل کېږي او دغه قوانين د عوايدو لوی رياست د پاليسۍ په رڼا کې جوړ سوي دي. په پای کې د هوټلونو او تېلو پمپونو اتحاديو د استازو ستونزي واورېدل سوې، چې د مسؤلين له خوا ئې د حلولو ژمنه وسوه.



**ماليې وزارت په ۱٤۰۲ کال کې سلګونه (ټي اېس سي) کوډونه اصلاح کړي دي**


م ۲




**د ننګرهار ګمرک ۵۲ تنو کارکوونکو ته جوړ سوی روزنيز ورکشاپ پای ته ورسېد**


م ۲




**د ۱۲ مستوفيتونو له مالي او حسابي کارکوونکو څخه د روزنيز پروګرام لومړۍ دورې له بشپړاوي وروسته ازموينه واخيستل سوه**


م ۲




**د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د ديني زده کړو د ازمويني پايلي اعلان سوې**


م ۲




**اشتغال زايی و کار آفرينی**


م ۳






**افغانستان به روسيې ته د صادراتي توکو لړۍ پراخه کړي**


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه



## د عوایدو لوی ریاست ته نوی عملیاتي مرستیال معرفي سو



د ماليې وزارت رهبرۍ د لزوم دید او په چارو کې د نویو پرمختگونو په موخه د گمرکونو او عوایدو معین الحاج ملا عبدالقاهر (حاجی ادریس) له لوري حافظ محمد ابراهیم د عوایدو لوی ریاست د عملیاتي مرستیال په توگه د دغه ریاست کارکوونکو ته ور وپېژندل سو.

د پېژندني په دغو مراسمو کې د عوایدو لوی ریاست رئیس حافظ شاه حسین حسیني، د گمرکونو لوی رئیس مولوي عبدالمتین سعید او د دغه ریاست رئیسانو او کار کوونکو هم حضور درلود. ښاغلی حافظ محمد ابراهیم تر دې وړاندي د گمرکونو لوی ریاست کي د گمرکونو د قانون پلي کولو او اطاعت پذیرۍ ریاست چاري مخته وړلې.

ښاغلي حاجي ادریس د پېژند غونډې پر مهال وویل، چي دغه نظام د مال او پیسو په سرمایه گذارۍ نه دئ راغلی؛ بلکي دغه نظام د وینو په سرمایه گذارۍ راغلی دئ؛ نو موږ او تاسو ته پکار ده، چي له پوره احتیاط څخه کار واخلو تر څو په ورځ د آخرت خپلو شهیدانو ته ملامت ونه اوسو. نوموړي همدارنگه د عوایدو لوی ریاست له ټولو رئیسانو وغوښتل، چي له نوي عملیاتي مرستیال سره په کارونو کي پوره همکاري وکړي او د مراجعینو کارونه باید پر خپل وخت خلاص او ښه چلند ورسره وسي.

د یادوني وړه ده، چي د عوایدو لوی ریاست مخکنی عملیاتي مرستیال حافظ خلیل احمد د ننگرهار ولایت د نوي مستوفي په توگه معرفي سو.

## جلسه هماهنگی به منظور ایجاد سیستم مدیریت معلومات دایر گردید



جلسه هماهنگی به منظور ایجاد سیستم مدیریت معلومات (Management Information System) در معینیت پالیسی وزارت مالیه دایر گردید.

این جلسه که تحت ریاست موسی کاموی، رئیس نظارت، ارزیابی و گزارش دهی و با اشتراک داکتر احمد ضیاء نیازی، آمر سیستم متذکره و جمعی از آمرین مسلکی معینیت پالیسی تدویر یافت، در رابطه به ایجاد سیستم متذکره، کارکرد و مؤثریت آن تأکید صورت گرفت.

گفتنی است که سیستم مدیریت معلومات (MIS) نقش مهمی در مدیریت و بهبود عملکرد در ادارات دارد. این سیستم از ترکیب فناوری اطلاعات و مدیریت بهره میبرد تا داده‌ها را به معلومات کاربردی تبدیل کنند، که این امر می‌تواند در تمامی سطوح اداره مفید تمام شود.

## ماليې وزارت په ۱۴۰۲ کال کي سلگونه (ټي اېس سي) کوډونه اصلاح کړي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري په گمرکونو کي د فساد د مخنیوي، سوداگرو ته د لا ډېرو اسانتیاوو رامنځته کولو، په چارو کي د چټکتیا او د یو شان اجراآتو په موخه د سوداگریزو توکو د بیي اېښودني په برخه کي د پام وړ اصلاحات رامنځته کړي دي.

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست، په (۱۴۰۲) مالي کال کي د گمرکي توکو (۱۴۲۷۹) ځانگړي (ټي اېس سي) کوډونه، چي په غیر معیاري بڼه ثبت سوي ول او فساد ته ئې زمینه برابروله، په سیستم کي بند او غیر فعال کړي دي.

یاد ریاست، همدا رنگه د بیي اېښودني له اصولو سره سم، د نویو گمرکي اقلامو له پاره (۱۹۹۶۱) نوي (ټي اېس سي) کوډونه په معیاري بڼه جوړ او فعال کړي دي، چي ورسره د گمرکي تعرفو په برخه کي برابروالی او بشپړه روڼتیا رامنځته سوې ده.

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري د تعرفې او قیمت اېښودني کوډونو د ښه تطبیق او په دې برخو کي د اصلاحاتو رامنځته کولو په موخه یوه تخنیکي کمېټه جوړه سوې ده، چي په منظم ډول په یاده برخه کي کار کوي او په (۱۴۰۲) کال کي ئې د (۱۰۵۳) تعرفوي کوډونو ارزونه کړې، چي پر بنسټ ئې (۸۶۳) ټي اېس سي کوډونه اصلاح سوي دي.

## د ننگرهار گمرک ۵۲ تنو کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد

د گمرکونو ملي اکاډمۍ له لوري د ننگرهار گمرک (۵۲) کارکوونکو ته د گمرکي مسایلو او قوانینو په تړاو جوړ سوی (۲۵) ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد.



د ننگرهار گمرك رئیس محمد خالد عمر د گمرکونو د لوی ریاست له رهبرۍ او د گمرکونو ملي اکاډمۍ له مسؤلینو او ښوونکو له همکاریو مننه وکړه او کارکوونکو ته ئې وویل، چي له زده کړل سوو موضوعاتو څخه په کاري ساحه کي ښه گټه واخلي او چارې په پوره ریښتینولۍ ترسره کړي.

د یادوني وړ ده، چي په دې روزنیز ورکشاپ کي کارکوونکو ته د گمرکونو قانون، د گمرکي پروسیجرونو، اسیکوډا سیستم او نورو اړوندو تقنیني گمرکي سندونو په تړاو عملي او نظري روزنه ورکړل سوه.

## د ۱۲ مستوفیتونو له مالي او حسابي کارکوونکو څخه د روزنیز پروگرام لومړۍ دورې له بشپړاوي وروسته ازموینه واخیستل سوه

د ماليې وزارت د خزاینو لوی ریاست د بشري سرچینو ریاست په همکارۍ د ننگرهار، نورستان، لغمان، کونړ، کابل، کاپیسا، پروان او کابل مستوفیتونو د کارکوونکو د کاري ظرفیت لوړولو په موخه روزنیز پروگرام جوړ کړی وو، چي د دغه پروگرام له بشپړېدو وروسته له یادو کارکوونکو څخه ازموینه واخیستل سوه.

دغه ازموینه د گمرکونو او عوایدو په ملي اکاډمۍ کي د خزاینو لوی ریاست د مسؤلینو په حضور کي واخیستل سوه. هغه کسان، چي له دې پروگرام څخه ئې په اغېزمنه توگه گټه پورته کړه او ازموینه ئې په بریالتوب ترسره کړه، خپلو دندو ته به دوام ورکړي او د هغو کسانو پر ځای به نوي کسان وگومارل سي، چي په ازموینه کي بریالي سوي نه وي.

د یادولو وړ ده، چي د ماليې وزارت د خزاینو لوی ریاست د روزنیز پروگرام دوهمه دوره به ډېر ژر د یو شمېر نورو ولایتي مستوفیتونو د کارکوونکو له پاره هم پیل سي.



## د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دیني زده کړو د ازموینې پایلې اعلان سوې



د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د یو لړ مراسمو په ترڅ کي د دیني زده کړو د ازمویني پایلي اعلان کړې.

په دې مراسمو کي د ماليې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د ماليې وزارت د دفتر لوی رئیس مولوي عبیدالله ابو احمد، د ازموینو ملي اداري لوی رئیس شیخ عبدالباقي حقاني، د دعوت او ارشاد لوی رئیس مولوي شریف الله حقاني، د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس عبدالهادي سیف الخالد او یو شمېر نورو مسؤلینو گډون کړی وو.

د ماليې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په خپلو خبرو کي د دعوت او ارشاد ریاست کارونه د ستاینې وړ وبلل او زیاته ئې کړه، چي د دغه ریاست دنده په نېکیو امر کول او له منکراتو منع کول دي، په دې مانا، چي تاسي غوره او نېکو کارونو ته هڅوي او له بدو او ناوړه کارونو څخه مو منعه کوي او ستاسي له پاره د هغو اعمالو سپارښتنه کوي، چي ستاسي په گټه دي.

د دعوت او ارشاد لوی رئیس مولوي شریف الله حقاني وویل، چي په دولتي ادارو کي د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا په کچه ډېر پوه او تجربه لرونکي کارکوونکي سته، چي خپلي چاري په ښه توگه پرمخ وړي؛ خو یو شمېر ئې باید عقیدتي مسایلو ته هم پاملرنه وکړي. په همدې موخه په افغانستان کي د اسلامي امارت له بیا حاکمېدو وروسته د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمان پر بنسټ د دعوت او ارشاد په نوم په هر وزارت کي یو خپلواك ریاست رامنځته سو؛ ترڅو د دنیوي زده کړو تر څنگ له اسلامي علومو او فرهنگ څخه هم برخمن سئ او د ټولني د اصلاح او د دې اسلامي نظام په پیاوړتیا کي مرسته وکړئ.

د ازموینو ملي اداري لوی رئیس شیخ عبدالباقي حقاني وویل، چي په نړۍ کي هیڅ داسي نظام نسته، چي ټول خلك ورڅخه راضي وي؛ خو په افغانستان کي حاکم نظام هغه نظام دئ، چي ټول خلك ورڅخه راضي دي. افغانیت او اسلامیت د دوی د هغو ارزښتونو له ډلي څخه دي، چي دوی ئې سره متحد کړي او د انسانیت او امت یووالی ئې رامنځته کړی دئ. موږ د یوه خپلواك هیواد په توگه حق لرو، چي په خپله خوښه ژوند وکړو، په خپلو عقایدو او دیني قوانینو باندي په کلکه عمل وکړو. د دې نظام د یوه استازي په توگه د دعوت او ارشاد ریاست دنده لري، چي د هغه څه سپارښتنه درته وکړي، چي ستاسي په گټه وي او له هغو کارونو څخه مو منعه کړي، چي ستاسي په زیان دي. نو دوی ته غوږ ونیسئ او عمل پرې وکړئ.

د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس د ټولو گډونوالو له راتگ او د دغه وزارت له کارکوونکو څخه د کارونو د ښه پرمخ وړلو له امله مننه وکړه او د ماليې وزارت له ټولو کارکوونکو څخه د دغه وزارت د دعوت او ارشاد ریاست سره د لا همکاریو غوښتونکی سو.

په پای کي د ازموینو پایلې اعلان او یو شمېر هغو کسانو ته، چي لوړي نمرې ئې ترلاسه کړي وې ستاینلیکونه ورکړل سول.

مراسم د خیر په دعایې پای ته ورسېدل.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# اشتغال زایی و کار آفرینی

احسان الله نکته دان
کارشناس ریاست عمومی تفتیش
داخلی وزارت مالیه



امروزه موضوع اشتغال زایی وکار آفرینی یکی از بزرگترین معضله ای است که اکثر کشور های جهان، حتی کشور های پیشرفته از آن در امان نبوده از تبعات آن رنج می برند و برای کاهش نرخ بیکاری و ایجاد شغل شب و روز تلاش ورزیده و در رفع این معضله و شیوه های حل آن پژوهش نموده به تناسب امکانات خویش راه های مناسبی را پیدا می کنند. مردم بی چاره و بی بضاعت ما نیز ازین ناحیه بی غم نبوده از این ناحیه بیشترین رنج را می برند، و همواره در تلاش رزقی هر گونه رنج و زحمات را متحمل شده تا برای خود و عیالشان لقمه ای نانی بدست آورند. روی این منظور راه های پر مخاطره ای را در پیش می گیرند تا به این مأمول برسند که متأسفانه برخی هر گز به این آرمان نرسیده عوض اینکه لقمه ای بدست آورند خود لقمه نهنگ و ماهی می شوند و یا در کشور های اجنبی سرگردان شده از زندگی پر مشقت که به آن مواجه اند، رنج می برند و برخی مایوس شده دست از تلاش ها بر می دارند و یا راه های دیگری را در پیش می گیرند و احیانا به مواد مخدر روی می آورند. بنابر آنچه تذکر یافت راقم این سطور نگاهی به اشتغال زایی افگنده راه ها و فرایند آن را در طی سطوری چند به بررسی می گیرد تا بتوان در راستای کاهش این معضله کمکی نموده باشد و افراد تشنه کار از آن الهامی اخذ نماید و خود را به ساحل مقصود برساند.

**اهمیت اشتغال زایی و کار آفرینی:**

اشتغال زایی اثرات چشمگیری بر افراد و جامعه دارد. زمانی که کسب و کار ایجاد می شود، تقاضا برای اجناس و خدمات افزایش می یابد که به نوبه خود رشد اقتصادی را تشدید می بخشد. این امر منتج به ازدیاد محصولات، فعالیت های تجارتی، و تولید درامد می شود. سر انجام به عواید مالیاتی برای دولت ناشی می شود. افزون بر آن، ایجاد شغل و کسب و کار نرخ بیکاری را کاهش می بخشد و ثبات مالی و امنیت برای افراد و خانواده را فراهم می سازد. افزون بر آن زمانی که مردم شغلی داشته باشند تمایل به هزینه پول های بیشتری پیدا می کند که در نتیجه هزینه مستهلکین و فروشات پرچون بالا می رود. بدینوسیله به توسعه اقتصاد بیشتر نیرو می بخشد. روی هم رفته، ایجاد شغل نه تنها برای افراد با اهمیت است، بلکه صحت و سلامتی اقتصاد در کل نیز یک امر مهم و حیاتی است.

**فکتور های که اشتغال زایی را متأثر می سازد:**

فکتور های گوناگونی که از وضعیت اقتصادی تا خط مشی حکومت و تغییرات در ترکیب جمعیت دامنه دارد، اشتغال زایی را متأثر می سازد. یکی از فکتور های نهایت مهم و با اهمیت که اشتغال زایی را متأثر می سازد، رشد اقتصادی که به ازدیاد محصولات داخلی ناخالص یک کشور یا منطقه اشاره دارد، می باشد. هنگامی که اقتصاد در رشد باشد، عملیات و فعالیت کسب و کار گسترش یافته برای استخدام کارمندان بیشتر، چه در سکتور عامه و چه در سکتور خصوصی، نیاز احساس می شود و از همین رهگذر کار های زیادی پیدا می شود. فکتور دیگری که اشتغال را متأثر می سازد پیشرفت های تکنالوژیکی است، به ویژه تکنالوژی های که منتج به خود کار سازی و سودمندی منفعت ها می شود. این کار منتج به استخدام کارگران کمتر شرکت، با پرداخت مزد بالاتری به نسبت موثریت افزوده شده، می شود. افزون بر آن پالیسی های حکومت، چون تخفیف مالیات، سبسایدی ها، و ریفورم های تقنینی نیز می تواند به تشویق و ایجاد شغل از طریق مشوق ها برای کسب و کار سرمایه گذاری نماید و تأثیر بسزایی وارد کند. در نهایت تغییرات در ترکیب جمعیت ها، چون افزایش نفوس جمعیت سالخورده ها و تغییر در خصوص مهاجرت ها ایجاد کار را از طریق تغییر موجودیت کارگر و مهارت ها در داخل قوه کار متأثر می سازد. همین گونه فقدان یا ناتوانی در تهیه برنامه ها و طرح های اساسی و هدفمند برای ایجاد شغل، سیاست گذاری های نادرست و غیر اصولی، کم توجهی و بی پروایی به اشتغال و فرهنگ کار آفرینی و اولویت دادن سایر مسایل نسبت به اشتغال زایی، دولتی بودن امور و عدم استفاده مناسب از ظرفیت های سکتور خصوصی، کمبود نیرو های متخصص و ماهر، محدود بودن زمینه های کار آفرینی، وضعیت اقتصادی ور شکسته ونیز جغرافیای کشورها، محدودیت در دسترسی به بازار های داخلی و خارجی، نامناسب بودن راههای مواصلاتی و ارتباطی، عدم بهره مندی از مواد اولیه، تحریم وفشار های اقتصادی، فقدان قوانین مناسب، بروکراسی های زاید، همچنین فساد محسوس و نامحسوس موجود و موثر در سیستم اداری کشورها، ضعف ناتوانی دولتها در حمایت و پیشتبانی هدفمند و منظم از تولید، فرهنگ و رفتار های اجتماعی، انتظارات غیر منطقی برخی از افراد جویای کار و حتی مولفه های مانند اراده و انگیزه، اعتماد به نفس، قدرت تصمیم گیری و ریسک پذیری و همین گونه خلاقیت و ابتکار عمل فردی را می توان از مهم ترین عوامل موثر در بیکاری به شمار آورد که متأسفانه در کشور ما بیشترین این عوامل موجود است و سد بزرگی فرا راه اشتغال زایی ایجاد نموده است.

**فرایند اشتغال زایی و کار آفرینی:**

حال با توجه به نرخ نسبتاً بالایی بیکاری در کشور، باید درك کنیم که چگونه اشتغال زایی کنیم؟ در پاسخ به این سوال قبل از هر چیز دیگر قابل ذکر است که اشتغال زایی الزاماً وظیفه دولتها نیست، بلکه دولتها مسئولیت دارند تا با برنامه ریزی مناسب حمایت های مادی و معنوی در ابعاد مختلف، شرایط را برای دستیابی به این هدف فراهم نمایند. بنابرین پیش از همه باید تفکر نادرست را که دولت باید برای هر فرد وظیفه دولتی فراهم سازد، از ذهن خود دور سازیم؛ زیرا این طرز تفکر باعث شده است که مردم، به ویژه جوانانی که تحصیلات عالی خویش را در رشته های گوناگون به پایان رسانیده اند، همچو توقع را به سر پروراند. متأسفانه آنهایی که دچار این نوع طرز تفکر اند همچو توقع را دارند، در حالی که در مقدور دولت نبوده و نمی تواند برای این جوانان که تعداد ایشان همه ساله رو به افزایش است این توقع ایشان را بر آورده سازد. دولت صرف مسئولیت دارد تا زمینه های مناسبی را برای رفع این عطش کاری شهروندان کشور مساعد سازد و برنامه ها و فرایند های کار آفرینی و اشتغال زایی را طرح نماید. برخی فرایند های اشتغال زایی به طور فشرده در زیر تذکر داده می شود.

۱- به عنوان نخستین گام پیش از هر اقدام دیگری، ضمن توجه به موانع و مشکلات که در بالا تذکر یافت، با بررسی و مطالعه کافی پیرامون ظرفیت ها و زمینه های اشتغال زایی و کار آفرینی در کشور، شناخت لازم از فرصت های شغلی موجود را کسب نماییم. مشورت با افراد صاحب نظر و متخصص در دستگاه های ذیربط دولتی و مراکز عملی و همچنین افراد مجرب و فعال در زمینه مورد نظر نقش تعیین کننده ای دارد.

۲- نیاز سنجی گام بعدی از مرحله کار آفرینی و ا شتغال زایی به شمار می رود، به این معنی که قبل از ورود به موضوع، باید بدانیم که موضوعات و زمینه های مورد نظر در کوتاه مدت وحتی دراز مدت در ردیف نیاز های فعلی یا اولویت های کنونی جامعه در داخل یا خارج از کشور قرار دارد، یا خیر.

**ادامه مقاله در شماره بعدی ...**

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت اړوند (۴) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت اړوند (۴) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندي کړي.

۱- د کابل ښاروالۍ (۱۲) مي ناحيې اړوند احمد شاه بابه مېني په دوستي ښارګوټي کي (۲۹،۲۷۰) جریبه ځمکه، چي یو باب دوه منزله ودانۍ او نور نیم کاره تاسیسات لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۲۱۴۶۴۷) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی اس نمبر): ٦٩,٣١٥٩٤٦-٣٤,٥٠٧١٤٥

۲- د کابل ښاروالۍ (۹) مي ناحيې اړوند زړو مکرویانو یکه توت سره د کابل سیند پر غاړه (٦،٠٢٧) جریبه ځمکه، چي میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۳۱۸۹) افغانۍ ده.
کوردینات (جی.پی اس نمبر): ٣٤,٥٣٣١٧١-٦٩,٢٠٨٢١٧

۳- د کابل ښاروالۍ (۱۰) مي ناحيې اړوند شهر نو هرات رستورانټ ته مخامخ (۲٦٧٣،۲۹) متره مربع کیندل سوي ځمکه، چي میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۱۴۰۷۹۳) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی اس نمبر): ٣٤,٥٣٥٠٢٨-٦٩,١٧٠٧٠٩

۴- د کابل ښاروالۍ (۴) مي ناحيې اړوند سلیم کاروان څلور لاري سره یو باب (۲۲) شمېره اپارتمان، چي ۴ خونې، دوه تشنابونه او یو پخلنځای لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۸۵۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی اس نمبر)٣٤,٥٥٥٩٩-٦٩,١٦٠٥٥٤

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (جوزا /۰۱ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (جوزا / ۱۴/ ۱۴۰۳) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۱۵ /۱۴۰۳) نېټه، د ماسپښین ۱:۳۰ بجې.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

### اعلان داوطلبی یک باب تانگ تیل و یک باب آپارتمان مربوط ناحیه ۴ و ١٦ شاروالی کابل!

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه (۲) جایداد دولتی ذیل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان می سپارد.

۱- یك باب تانگ تیل به مساحت (۱۳۲۲،۳) متر مربع که شامل (۵) پایه تیل، (۳) ذخیره زیرزمینی، مسجد، اطاق و تشناب واقع مقابل فابریکه نساجی بگرامی مربوط ناحیه (١٦) شاروالی کابل. که کرایه ابتدائی آن مبلغ (۵۵۵۰۰۰) افغانی می باشد.
کوردینات (جی. پی. اس): ٦٩,٢٤٦٨٤٨-٣٤,٥٠٣٠١٢

۲- یك باب آپارتمان به مساحت (۱۳۲) متر مربع واقع چهار راهی انصاری مربوط ناحیه (۴) شاروالی کابل که کرایه ابتدائي ماهانه آن مبلغ (۲۱۰۲۰۰) افغانی می باشد.
کوردینات (جی. پی. اس): ٦٩,١٦٥٦٠٧-٣٤,٥٣٢٦٥

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق می باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ (۳۱/ثور/ ۱۴۰۳ الی ۲۰/ جوزا / ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاك دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر، منزل ۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزی
تاریخ مجلس داوطلبی: ۲۱/ جوزا/ ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر.
شماره تماس: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

### د داوطلبۍ خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي ( د کندهار گمرك د سولري بریښنا) په پروژه کي، چي تشخیصیه نمبر ئې (۰۲۷-NCB/G//۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د ( جوزا/ ۱۰ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (جوزا /۲۰/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: یوسل او پنځوس زره (۱۵۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي

شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کنټپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# Supreme Leader of IEA Approves National Budget Document of FY1403




The National Budget Document of Afghanistan of 'FY1403' has been approved and enacted on behalf of the supreme leader of IEA, H H Amirul Momineen Sheikh Al-Hadith Maulawi Hibatullah Akhundzada (may Allah protect him) after thorough and careful consideration. The needs and priorities of the people have been widely considered in the national budget of the current fiscal year. National budget of current FY1403 has been prepared from domestic revenues the same as last year. As always, MoF is going to embed the national budget of FY1403 in the financial system of the country and will continue all the affairs related to the current financial year in the term of normal and developmental parts in a normal manner with full transparency.

# Hundreds of TSCs Reformed in 1402 – MoF's General Directorate of Customs



The General Directorate of Customs of MoF has made significant reforms in terms of eradicating and preventing corruption in customs, providing more facilities for traders, speeding up affairs and setting the price of commercial goods for the purpose of processing equally. The General Directorate of Customs blocked and deactivated those 14,279 special TSCs (Tariff Specification Codes) of customs goods in the system during FY1402, which were registered in a non-standard form and were giving rise to corruption. The Directorate, as well as in accordance with the principles of pricing, has created and activated new 19,961 TSCs for the customs items in a standard format that caused the equality and complete transparency regarding the customs tariffs. A technical committee has been structured by the Directorate of Customs of MoF for the better implementation of tariff and pricing codes to make reforms in these arenas, which operates regularly in this regard. The committee evaluated 1,053 tariff codes, based on which 863 TSCs were reformed.

# MoF Prioritizes e-Governance, System Building at Customs



MoF has prioritized the implementation of e-governance and system building at its bodies, and significant actions have been performed in these arenas. On this basis, there have been significant improvements and facilitations in the country's customs related to the system of ASYCUDA (Automated Systems for Customs Data), connecting the domestic transit form (T1) and e-filing at the customs of Hairatan, Khost and Kandahar; the implementation of pricing modules at the customs of Torkham, Kunar and Hairatan; creating software for systematizing analog weighing scales, updating digital weighing scales' software and connecting them all; activating advanced surveillance cameras at major customs, and performing connecting affairs of ASYCUDA and CBS' systems of Da Afghanistan Bank all in FY1402. With the consisting of these useful reforms in the system of ASYCUDA, the evasion and corruption of customs revenues have been intercepted; the relevant affairs have been speeded up and are done with full transparency through the system.




# افغانستان به روسيې ته د صادراتي توکو لړۍ پراخه کړي




د تاس – TASS په نوم روسي خبري اژانس د "روسیه - اسلامي نړۍ: کازان فورم ۲۰۲٤" په نړیواله اقتصادي غونډه کې د اسلامي امارت د ګډون په اړه پر له پسې څو راپوروڼه خپاره کړل، چې په کښې د افغانستان اقتصاد، ټرانزيټي وضعيت، ستراتيژيک موقعيت، د طبيعي زېرمو استخراج او سوداګرۍ ته ځای ور کول سوی دئ. دا نړیواله اقتصادي غونډه (۱٤ – ۱۹/ مې/ ۲۰۲٤)ز نېټه د روسيې د تاتاريستان په کازان ښار کې جوړه سوې وه.

د روسيې لومړي وزير مرستيال اليکسي اوورچوک د کازان په نوم لوی نړيوال اقتصادي فورم کې يادونه و کړه، چې افغانستان به روسيې ته د صادراتي توکو لړۍ پراخه کړي. اليکسي راپورته ته داسي ويلي دي: "موږ د ټرانسپورټ او اکمالاتو په برخه کې هم د دغو اړيکو د پراختيا اراده لرو او افغانستان په سيمه کې د همږغۍ د ډاډمنولو له پاره اړين دئ."

ياد مرستيال د افغانستان د پروسږکال صادراتو ته په اشارې سره ويلي دي، چې: «موږ خپل بازار ته د افغانستان د کرنيزو/ زراعتي محصولاتو صادراتو ته لېوال يو. پروسږکال ئې د انګورو، مغزانه توکو او وچو مېوو صادرات پيل کړل. تمه ده، چې له افغانستان څخه د توکو لړۍ به پراخه سي.»

د اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزير ښاغلي نورالدين عزيزي صاحب، چې په ياده غونډه کې ئې ګډون کړی وو، د يادي نړيوالي اقتصادي غونډې په يوه څنډه کې دا خبره ذکر کړه، چې روسيه دي د غنمو قيمت را کښته کړي. عزيزي صاحب راپور ته خبره واضح کړې ده، چې افغانستان د غنمو اکمالاتو ته اړتيا لري او له روسي چارواکو څخه ئې غوښتي دي، چې د غلو دانو د صادراتو قيمتونه را کښته کړي.

راپور تر دې را وروسته د افغانستان د طبيعي زېرمو د استخراج په اړه هم اشاره کوي او وايي، چې افغانستان پلان لري، چې له روسيې سره د ليتيم او مسو غوندي مځکنيو نادره فلزونو او هم د قيمتي ډبرو په څېر د معدني زېرمو په استخراج کې همکاري وکړي. په دې تړاو عزيزي صاحب تاس خبري اژانس ته د روسي شرکتونو د ترغيب په اړه ويلي دي: "د دغو فلزونو او مينرالونو د استخراج له پاره ښه ظرفيت وجود لري او زه هيله من يم، چې روسي شرکتونه په افغانستان کې په دې برخه کې پانګونه و کړي."

راپور «افغانستان چمتو دئ، چې د روسيې په ګډون له دريو هيوادونو سره د مالونو د ټرانزيټ تړون لاسليک کړي» تر سرليک لاندي د ټرانزيټ تړون خوا ته اشاره کوي او ښاغلی عزيزي ئې په اړه وايي: "موږ چمتو يو، چې له دريو ملکونو: ترکمنستان، پاکستان او روسيې سره يو ټرانزيټي تړون لاسليک کړو، چې دا به د سوداګرۍ په پراختيا کې مرسته و کړي. په دې سره به افغانستان د سويلي اسيا هيوادونو ته د مالونو د لېږد په يوه اسانه نقطه بدل سي."

هغه زياته کړه، چې افغانستان د سويلي اسيا هيوادونو ته د مالونو د ټرانزيټ په يوه مناسب ځای بدلېدلای سي.

د دې نړيوال اقتصادي فورم يا غونډې اصلي موخه د راپور د معلوماتو په اساس پر دوو ټکو را څرخي:

الف) د روسيې د سيمو او د اسلامي همکاريو د سازمان د غړو هيوادونو (OIC) ترمنځ د اقتصادي، علمي او تخنيکي، ټولنيزو او فرهنګي اړيکو پياوړتيا،

ب) همدارنګه په روسيه کې د اسلامي مالي نظام د بنسټونو/ انستيټيوټونو پرمختګ او وده يا ترويج.

راپور په وروستيو کرښو کې ليکلي دي، چې د سږکال کليدي ټکي "باور او همکاري" ده.

د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.